مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۴/۲۶

«د خانانو په کاله کې»

ښکلی نظم که په تول پوره لنډه کیسه؟

«د خانانو په کاله کې» د ښاغلي نوراجان بهیر هغه نظم دی چې ده په لغمان کې د غازي محمدشاه بابکرخېل په یادغونډه کې ولوست او زه یې وژړولم. نظم په نورو ملګرو هم پوره اثر کړی او د ډېرو خوښ شوی و. «د خانانو په کاله کې» دې ته وهڅولم چې د اغېز شیندلو په دلیل پسې یې وګرځم. راځئ یو ځل نظم ولولئ، بیا به خواله سره وکړو:

د خانانو په کاله کې، غږ د نوې ځانګې ډېـــر و
خان که څومره کبرجن و، خو له ځانګې نه چاپېر و
زلمی څه که ځان یې مړ کړ، د یوې کونډې ښځې زوی و
خان د ځانګې ډولۍ غوښته، دا تقدیـر و، زلمی پوی و
هو، د خپل مین په مرګ خو، ځانګه زېړه شوه، خپه شوه
دې هم غوښتل داسې وکړي، خو په یو ټکي ستنه شوه
خان وې دا که زما نه شوه، نو د پلار خیر به یې نه وي
د کر زمکې به ترې واخلي، د روزګار خیر به یې نه وي
ځانګې وې که داسې وشول، مور به بې علاجه مړه شي
د پلار زړه به پسې وچوي، رڼا خونه به تیاره شي
لنډه دا چې له واده نه، لږ څه کم یو کال تېرېږي
نورې دوې ښځې شېږ لونه، اوس د خان له سترګو لوېږي
خو د خان یوه خبره، له سرو زهرو نه ترخه ده
که دې ځانګې هم لور راوړه، بیا نو دا هم ښځه نه ده
د دایې غږ لکه تبر، ځانګه غوڅه کړه اري کړه
د غبرګونو لونو غږ شو، خان وې هیلې رانه پرې کړه
اوس د خان په لوی کاله کې، ځانګه وینځه ده کړخېږي
څه که شل سپرلیه تېر شول، دا غوړېږي نه، زېړېږي
یوه ورځ کلي کې شور شو، چې خان دوه قتلونه وکړل
د بر کلي خان واده و، ده پرې ټیټ ډزونه وکړل
هو، رښتیا وو په اتڼ کې، دوه نښتر ژنې لوېدلې
شېبه وروسته په لر کلي، لښکر راغی د بر کلي
د هر چا لاس کې یو میل و، د هر میل خوله کې ګولۍ وې
خو خان ځان ترې ترې تم کړ، پاتې ښځې جینکې وې

څه وخت وروسته څو مشرانو، یوه لویه جرګه وکړه
چې توی وړی واك یې واخیست، وېل یې موږ فیصله وکړه
بس د ځانګې لونه یې ورکړې، د دې بدو په بدل کې
خان اوس بیا د حجرې خان شو، نور تنګ شوی و غوجل کې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اخر دا د زهرو گوټ هم، ځانګې تېر کړ له مرګ نه
د ناکام غاړه يې کېښووه، د رواج له مجبورۍ نه
د دوو پيغلو ارمانونه، رژېدل د چا لپاره
چې د مور زړه ځنې چاود و، د هغه بابا لپاره
دوی وې دوی دې وې په اور کې، خو چې خان کاکا ژوندی وي
ښځې نه مري، ښځې ډېرې خو چې نر سړی ژوندی وي
د رامبېل چامبېل واده دی، خو نه ډول شته نه سرنا شته
څو سپين سرې ښځې راغلې، نه ټپې شته نه دريا شته
د بر کلي دوو کورو کې، د خيرات غونډې وادونه
نه خوښي شته نه خنداوي، څه ميرات غونډې وادونه
وخت تېرېږي نه اودرېږي، دوې تنکۍ غوټې رژېږي
د دوو خونو سرې سکروټې، د همدوی پر تن سړېږي
غبرګې خويندې لکه سترګې، اوس په يو وير په ژړا دي
د يوې بلې په ارمان دي، په نرې دېوال پناه دي
د دوی تور ويښته خو سپين شول، خو د خلکو زړونه تور دي
لا هم غواړي يوه بله، په ارمان د پلار او مور دي
يوه ورځ کلي کې زوږ شو، وې بېګاه جګړې خوړلي
چا روغتون ته دې راوړي، څو ځوانان د دغه کلي
دا غږ څه و لکه اور چې، لګېدلی وي په کلي
ښځو نرو منډې پيل کړې، د روغتون په لوري ځغلي
د روغتون تياره دهلېز کې، د لسګونو ميندو وير و
چا د زوی نښه په ياد وه، چا په زړه ايښی تصوير و
په بمونو راکټونو، ټوټه شوي ځوانان ډېر دي
اوس به يو يو رامعلوم کړي، شکر نن ډاکتران ډېر دي
رنګ په وينو تذکره کې، دوې تنکۍ ځوانۍ پرتې دي
څه بې وخته رژېدلې، دا د ګل غوټې پرتې دي
د ډاکتر غږ په دهلېز کې، د سلګيو زوږ خاموش کړ
وې دا څوك دي چې جوړه يې، د مرګ جام اوچت او نوش کړ
د راکټ لمبو يې سوي، جيب کې واړه کاغذونه
ګوندې تاسو ته معلوم شي، لوڅوم يې ګل مخونه
له دوو ستونو را اوچتې، د دوو سوو زړو ناري شوې
د رامبېل چامبېل زامن وو، لکه ځانګې پرې خورې شوې
غبرګې خويندې، غبرګې کريغې، اخ اتله اخ زلميه
خواره مور دې چا ته پرېښووه، څه دې وکړل ليونيه
خويندې دېرش کلونه وروسته، د يوې بلې سترګې ويني
راغلې غبرګې، لاړې غبرګې، جنازې هم غبرګې ويني
تر منځ ايښې تذکره کې، سره په وينو ګلابونه
څه ښايسته څه سره ورته، بس د يوې ځانګې ګلونه
هو، په يوه مالت کې لوی، د يوه وطن مېړونه
توپير دا چې يوه خرييلې، بل اوږده ږيره برېتونه
د تقدير لوبه عجبه، يو دريشي پر تن روان شو
او بل هم په ننګ او فکر، د همدې وطن روان شو
دوی يو بل ته مخامخ شول، د يو بل ويني يې توی کړې
د مور زړونه يې سوري کړل، د اولاد ميني يې توی کړې
***

هغه نظمونه چې پلاټ لري او يوه پېښه په کې بيانېږي، لنډې کيسې ته ورته وي او بايد د ښې لنډې کيسې ځانګړنې ولري. اوس به وګورو چې «د خانانو په کاله کې» د کاميابې لنډې کيسې کوم توکي لري:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

موضوع:

د موضوع انتخاب د کیسې په کامیابېدلو کې لوی لاس لري. نظم د خپلې موضوع په لحاظ خورا ښکلی دی. بهیر راته د پښتنو د درېو نسلونو کیسه کوي: د ځانګې، د هغې د لونو او د هغې د لمسیانو. موږ هر یو په دې درېو نسلونو کې په یوه ځای کې ځان وینو. موږ چې له جګړو څخه مو ډېر تاوانونه لیدلي دي، د داسې نظم په اورېدو متاثر کېږو. دا نظم د خواخوږۍ هندارې په شان زموږ د ټولنې عیبونه راښکاره کوي خو پیغور نه راکوي. په همدې وجه زموږ په زړونو اثر غورځوي خو د بهیر کمال یوازې د موضوع په انتخاب کې نه دی.

عنوان:

د لنډې کیسې عنوان باید داسې کلمه یا عبارت وي، چې د کیسې په موضوع مو یو څه خبر کړي خو د کیسې ټوله موضوع او خصوصاً د کیسې پای راته افشا نه کړي او په ضمن کې باید لنډ وي، په زړه پورې وي، تلوسه راپیدا کړي او د موسیقۍ له نظره هم خوندور وي. «د خانانو په کاله کې» همدغسې عنوان دی. له بلې خوا په نظم کې یوازې د یوه خان کرکټر وینو خو عنوان بیا جمع دی، د «خان» پر ځای د «خانانو» په کاله کې. پښتنو ته د هند براعظمګي اوسېدونکي خانان وایي. د قبایلي پښتني ټولنې هر غړی ځان خان ګڼي. په نظم کې یاده شوې غمیزه هم د ټولو پښتنو په کورونو کې روانه ده. کله چې نظم پای ته رسوو، دې ته متوجه کېږو چې موږ ټول له دې بدمرغیو سره مخامخ یو.

پیل:

لنډه کیسه باید له هغه ځایه پیل شي چې تلوسه رامنځته کړي. که کیسه داسې پیل شي: «غرمه وه. لمر په اسمان کې نېغ ولاړ و. هوا ډېره ګرمه وه. په کلي کې چوپه چوپتیا وه. په کوڅو کې هېڅ څوك نه ښکارېدل...» دې ته ولاړ پیل وایي ځکه چې حرکت په کې نشته، لکه د مقالې بې خونده مقدمه چې له اصلي موضوع سره تړاو نه لري. بهیر خپل نظم داسې پیلوي:

د خانانو په کاله کې، غږ د نوې ځانګې ډېـــر و
خان که څومره کبرجن و، خو له ځانګې نه چاپېر و

دلته شاعر وار له واره اصلي موضوع ته ننوتلی دی. دغه بیت سړي ته دا تصور ورکوي چې ځانګه به ډېره ښکلې وي چې په کلي کې یې خبرې ډېرې کېږي. بیا یو خان راپېژني چې کبرجن دی. له دې تصوره سره سړي ته دا پوښتنې هم پیدا کېږي چې ځانګه نو څوك ده؟ خان ولې ورنه چاپېر دی؟ خان به څه وکړي؟ په ځانګې به څه وشي؟ دغه پوښتنې سړی اړ باسي چې د نظم نور بیتونه هم ولولي. د کیسې پیل هم باید همداسې وي.
دویم بیت تلوسه لاپسې زیاتوي:

زلمی څه که ځان یې مړ کړ، د یوې کونډې ښځې زوی و
خان د ځانګې ډولۍ غوښته، دا تقدیـــر و، زلمی پوی و

درېیم بیت مو د کیسې اوج ته رسوي:

هو د خپل مین په مرګ خو ځانګه زېړه شوه، خپه شوه
دې هم غوښتل داسې وکړي، خو په یو ټکي ستنه شوه

په کیسه او په نظم کې تلوسه باید همداسې وساتل شي چې لوستونکی مجبور کړي کیسه تر پایه پورې ولولي.

منطق:

په کیسو کې باید د پېښو تر منځ منطقي تړاو وي. یعنې په کیسه کې باید یوه پېښه له بلې وزېږي. که موږ ووایو: «د احمد ورور بندي و. احمد غلا وکړه.» دلته د دې دوو خبرو تر منځ ارتباط نشته. خو که داسې ووایو: «د احمد ورور بندي و. قاضي رشوت غوښت، ډېرې پیسې یې غوښتې. د احمد په کور کې لا روپۍ نه پیدا کېده. چا پور هم ورنه کړ. په یوه دوکان ورپېش شو چې ښه ډك و. د شپې ورغی. قلف یې مات کړ. دوکان یې وواهه.» دلته د احمد د غلا او د هغه د ورور د بندي کېدو تر منځ تړاو پیدا شو. د بهیر په نظم کې هم پېښې له یوې بلې زېږېدلې دي او منطقي تړاو سره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لري: د کونډې زوی ځکه ځان وواژه چې پوهېده ځانګه به د خان شي. خان ځکه دويم واده غوښت چې نارينه اولاد يې نه و. بيا که خان قتلونه نه وای کړي، د ځانګې لونې به په بدو کې نه ورکول کېدې. د رامبېل چامبېل زامنو سره نه پېژندل ځکه چې دغه خويندې په بدو کې ورکړل شوې وې او تګ راتګ يې سره نه درلود. البته د دوی د زامنو وژل کېدل، له دې پېښو سره چندان تړاو نه لري خو زموږ د ټولنې لويه تراژيدي بيانوي.

ژبه:

د کيسې ژبه بايد عادي غږېدا ته ورته وي، لکه څوك چې سړي ته نکل کوي خو فصاحت هم بايد ولري. البته شعر د خپل وزن او قافيې په خاطر د شاعر ازادي يو څه محدودوي خو د نظم ژبه بايد روانه او فصيحه وي او د مانا په رسولو کې ستونزه ونه لري. د دې نظم ژبه همداسې ساده، خوږه، روانه او فصيحه ده او د بلاغت ستونزه په کې نشته. شاعر چې څه غوښتي دي، هماغه يې ويلي دي او لوستونکی يې پرې پوهولی دی. په لنډو جملو او کمو کلمو د پوره مانا رسول، کمال دی. بهير دغه کمال هم لري. ده هڅه کړې ده چې خبرې رالنډې کړي.

خو د خان يوه خبره، له سرو زهرو نه ترخه ده
که دې ځانګې هم لور راوړه، بيا نو دا هم ښځه نه ده
د دايې غږ لکه تبر، ځانګه غوڅه کړه اري کړه
د غبرګونو لونو غږ شو، خان وې هيلې رانه پرې شوې

بهير صاحب په داسې لنډو جملو اوږده کيسه بيانوي. دی هرې پېښې ته مخامخ ورځي، له حاشيې او مقدمې تېرېږي. که يې داسې نه وای کړي نو نظم به يې تر دې څو وارې زيات اوږد و او ممکن د لوستونکو زړه به يې تنګ کړی وای.

پای:

د کيسې پای بايد هم ناڅاپي وي او هم منطقي. ناڅاپي پای سړی حيرانوي چې اوه دا څه وشول خو که منطقي وي، سړی بيا فکر کوي او وايي چې نه بايد همداسې شوي وای. دلته د کيسې پای له تېرو پېښو سره چندان تړاو نه لري. له ځانګې سره د خان واده، د خان په لاس قتلونه او په بدو کې د دې ځوانانو د مينډو ورکول د دوی له مړينې سره نېغه رابطه نه لري. دوی که د نورو مينډو زامن هم وای، په دې جنګ کې به وژل کېدل. د کيسې پای بايد سړي ته ټکان ورکړي او تر يوې مودې پورې يې له ځانه سره بوخت وساتي. دغه نظم د رامبېل چامبېل د زامنو په مرګ ختمېږي. دغه غمجن پای سړی فکر کولو ته هڅوي، سړی مجبوروي، چې ټوله کيسه يو وار بيا په ذهن کې تېره کړي.

کرکټرايزېشن:

د هنر مرغه د خيال په وزرو د واقعيت په اسمان کې الوت کوي. د کيسې کرکټرونه بايد د ټولنې واقعي کرکټرونو ته ورته وي. ليکوال بايد د کرکټر ظاهر، د هغه افکار او رواني ځانګړنې او د هغه ټولنيز موقف راوپېژني. په دې نظم کې خان کبرجن او د قبايلي کلچر يو مثال دی. دی لونې په انسانانو کې نه شمېري، خپله ګناه نه مني، بې فکره دی، د خپل عمل عاقبت ته فکر نه کوي او د بر کلي د خان په واده کې ټيټ ډزونه او دوه قتلونه کوي. دی د بل هر مېړنې په شان ډارن دی. هلته قتل کوي او بيا په غوجل کې پټېږي، کور او حجره ښځو جنکيو ته پرېږدي او په پای کې خپلې لونې اور ته اچوي خو ځان له مرګه ژغوري. ځانګه او رامبېل چامبېل زموږ د ټولنې د واقعي مېرمنو په څېر يوازې د نرانو د غوښتنو قربانيانې دي.

پيغام:

په کيسه کې ښه پيغام هغه دی چې په اخلاقي لحاظ مثبت وي او په کيسه کې پټ وي يعنې د نصيحت په شان ښکاره نه وي. د بهير صاحب نظم ګڼ پيغامونه لري؛ خو دا ټول پټ پيغامونه دي. دی خپله تبصره ورباندې نه کوي. دی راته ښيي چې زموږ په ټولنه کې دغه ناخوالې شته. د طب له نظره د اولاد جنسيت په نر پورې اړه لري. د اولاد نر او ښځه په جنسي کروموزمونو ټاکل کېږي. ښځې يوازې يو ډول جنسي کروموزوم لري چې هلك او نجلۍ دواړه له هماغه کروزموزومه پيدا کېږي؛ خو نر دوه ډوله جنسي کرزوموزمونه لري يو يې x دی بل يې y. له x کروموزمه نجلۍ او له y هلك پيدا کېږي. يعنې که د چا زامن نه پيدا کېږي، ښځه په کې هېڅ رول نه لري. زموږ نران په دې نه دي خبر او که خبر هم وي، ځان ناګاره اچوي. ډېر داسې کسان شته چې اولاد يې نه کېږي او پرته له دې چې ځان په ډاکټر معاينه کړي چې تاوان په ده کې دی که په مېرمن کې يې، بل واده کوي. وروسته بيا ورته پته لګېږي چې دی پخپله شنډ دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کیسې بل پیغام دا دی چې بې باکي د مرګونو سبب ګرځي. په وادونو کې ډزونه ممکن په انسانانو ولګېږي. په بدو کې د نجونو د ورکولو ناوړې پایلې د کیسې بل اخلاقي پیغام دی. موږ هغو مېرمنو سره چې په بدو کې راکړل شوې دي، د دښمن په سترګه ګورو او ټول عمر پرې میچنې ګرځوو، حال دا چې جرم شخصي عمل دی، که ورور یا پلار قتل کړی، خور او لور ته به یې ولې سزا ورکوو.
بلاخره د کیسې وروستی پیغام دا دی چې دا دېرش کاله وروڼه سره مخامخ دي او سره وژني. په ټول جهاد کې د روسانو دوولس که دیارلس زره کسان ووژل شول؛ خو د افغانانو مړي څوك یو میلیون، څوك دوه میلیونه بولي. اوس بیا هماغه کیسه روانه ده، طالب هم افغان دی، په ملي اردو او پولیسو کې هم افغانان دي. دلته د جګړې هغه تعریف سړي ته یادېږي چې وایي: په جګړه کې هغه کسان چې یو بل سره نه پېژني، د هغو کسانو لپاره چې ښه سره پېژني، یو بل وژني. د تنظیمي جګړو قربانیان ټول افغانان وو. دوی د هغو مشرانو لپاره یو بل سره ووژل چې نن په یوه کوټه کې سره بنډار کوي، په یوه دسترخوان سره د عیش و نوش ډوډۍ خوري خو هغوی چې د همدغو مشرانو لپاره یې ځانونه او نور ووژل، د ټولو هېر دي.

د نظم نور کمالونه:

ناڅاپي خوند:
استاد غضنفر وایي: «که په کیسه یا شعر کې له داسې پېښې سره مخ شو چې وار له مخې ورته منتظر نه یو، دا یو ډول ناڅاپي خوند پیدا کوي.» دلته د ځانګې د مین مرګ، د ځانګې کره د غبرګو لوڼو زېږېدنه، د خان په لاس قتلونه او د رامبېل چامبېل د زامنو مړینه همداسې ناڅاپي پېښې دي.
طنز:
په دې نظم کې څو ځایه له طنز سره مخامخ کېږو:

دوی وې دوی دې وې په اور کې خو چې خان کاکا ژوندی وي
ښځې نه مري، ښځې ډېرې، خو چې نر سړی ژوندی وي

دلته رامبېل چامبېل خپل پلار «خان کاکا» بولي. که څه هم ځینې خوستوال پلار ته کاکا وایي خو دلته د خان کاکا عبارت طنزي رنګ لري. خان د مېړانې، کرم، بخشش او د لوی انسان سمبول هم دی خو دلته خان نه مېړنی دی، نه لوی انسان. دی خپلې لوڼې تر ځان قربانوي. موږ کله کله د ملنډو لپاره هم چا ته کاکا وایو.

د روغتون تیاره دهلیز کې د لسګونو میندو ویر و
چا د زوی نښه په یاد وه، چا په زړه ایښی تصویر و

په بمونو راکټونو، ټوټه شوي ځوانان ډېر دي
اوس به یو یو رامعلوم کړي، شکر نن ډاکټران ډېر دي

د روغتون تیاره دهلیز زموږ په روغتونونو باندې طنز دی. د ډاکټر دنده د ناروغ درملنه ده خو دلته وینو چې دنده یې د مړو پېژندل او بېلول دي. دې سره شکر ایستل هم یو ډول طنز دی.

بس د ځانګې لوڼه یې ورکړې، د دې بدو په بدل کې
خان اوس بیا د حجرې خان شو، نور تنګ شوی و غوجل کې

دا هم زموږ په بې ځایه غرور پورې خندل دي چې لوڼو ته په سپکه سترګه ګورو خو چې بده ورځ راباندې راشي، خپله په غوجلو کې پټېږو، حجره دوی ته پرېږدو او بیا د همدوی په برکت له غوجله حجرې ته راوتلی شو.
په ټوله کې دا نظم په نرانو باندې طنز کوي. نران کله جاهل شي او عیب په دوی کې وي خو دوی یې چاره په بل کې ګوري. کله بیا ظالم شي، د نجلۍ پلار وګواښي چې که دې لور رانه کړه، ځمکه به درنه اولجه کړم. کله مظلوم شي، خپلې مینې ته نه شي رسېدلی او ځان ووژني. بل وخت احمق شي، د بل په واده کې ټیټ ډزونه وکړي، د نښتر په شان ځوانۍ خاورې کړي او د خدای قهر او د بنده دښمني وګټي. بیا د ځان د ژغورنې لپاره خپل اولاد قرباني کړي، د خپل اولاد ژوند ورتباه کړي. بل ځای کې نران بیا د جنګ میدان ته وردانګي، خپل خپلوان سره ووژني. دا په نرانو باندې چې ځان ته خان هم وایي، تریخ طنز خو حقیقت هم دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وزن، قافیه او موسیقي:

ښاغلي بهیر خپل نظم ته چست وزن غوره کړی. نظمونه خصوصاً هله چې اوږده وي او یا پېښې په کې ډېرې وي، باید همداسې چست وزن ولري چې هره مسره یې په یوه ساه وویل شي. د بهیر صاحب بل کمال دا دی چې هره مسره یې په دوو برابرو ټوټو ویشلې ده چې لوستل یې لا اسانه او خوند یې لا زیات کړی دی. دې کار له موسیقۍ سره هم مرسته کړې ده. دا ډول نظمونه چې هر بیت یې څلور ټوټې لري، شاعر ته دا امکان په لاس ورکوي چې د مسرو په لومړیو ټوټو کې هم قافیه کلمې راوړي او په دې توګه د شعر موسیقي لا پیاوړې کړي. موسیقي په شعر کې د سره ورته اوازونو د تکرار په وجه رامنځته کېږي. البته پښتو ژبه د خپل ګرامر په برکت ذاتي موسیقي لري. له موصوف سره د صفت، له معدود سره د عدد او له فاعل او/یا له مفعول سره د فعل ګردان پخپله موسیقي زېږوي؛ نو پښتون شاعر که لږه نوره خواري هم وکړي، خورا خوندوره موسیقي به رامنځته کړي.
د بهیر صاحب په نظم کې موسیقي په کافي اندازه شته خو وزن په څو ځایونو کې لږ مات شوی دی. لکه دغه مسرې:
زلمی څه که ځان یې مړ کړ، د یوې کونډې ښځې زوی و
د مسرې دویمه برخه یوه څپه زیاته ده. که داسې ولیکل شي چې: «دی د کونډې ښځې زوی و» نو وزن به یې سم شي.
بس د څانګې لونه یې ورکړې، د دې بدو په بدل کې
دلته د مسرې اوله ټوټه یوه اضافي څپه لري. که د څانګې پر ځای خان راشي؛ نو وزن به هم سم شي او په بله مسره کې د خان د کلمې تکرار له موسیقۍ سره هم مرسته وکړي. د مانا په لحاظ هم خان غوره دی، ځکه چې قتلونه خان کړي دي او په بدو کې د ده لونې ورکول کېږي. درېیمان یې د دې پروا نه لري، چې د څانګې لونې وي، که د خان د بلې ښځې.
د یوې بلې په ارمان دي، په نري دېوال پناه دي
بیا د مسرې لومړۍ ټوټه درنه ده. که یې داسې واړوو، برابره به شي: «په ارمان د یوې بلې» داسې به د «بلې» کلمه د مخکینۍ مسرې له «سترګې» سره ښه موسیقي هم وزېږوي.

غبرګې خویندې لکه سترګې، اوس په یو ویر په ژړا دي
په ارمان د یوې بلې، په نري دېوال پناه دي

دغه مسره بیا په دویمه ټوټه کې د وزن ستونزه لري:
خویندې دېرش کلونه وروسته، د یوې بلې سترګې وینې

دا مسره د قافیې له نظره هم له بلې مسرې سره نه لګېږي. په بله مسره کې د قافیې کلمه «غبرګې» ده چې وروستۍ څپه یې زور لري، حال دا چې «سترګې» په خپله وروستۍ څپه کې زورکی لري.
څه ښایسته څه سره ورته، بس د یوې څانګې ګلونه
په دې مسره کې «بس» اضافي دی، که یې ایسته کړو، وزن به سم شي.
توپیر دا چې یوه خرابیلي، بل اوږده ږیره برېتونه
اوله ټوټه یوه څپه زیاته ده. که «یوه» په «یو» واړوو، وزن به پوره شي او مانا ته به هم زیان نه رسېږي. په ځینو لهجو کې د «یو» مغیره بڼه هم د «یوه» پر ځای «یو» ویل کېږي. فکر کوم چې شعر به دغه ازادي لري چې کله کله له ګرامري قانونه سر وغړوي.

دوی وې دوی دې وې په اور کې، خو چې خان کاکا ژوندی وې
ښځې نه مرې، ښځې ډېرې خو چې نر سړی ژوندی وې

دغه بیت هم د قافیې ستونزه لري. «کاکا» او «سړی» سره هم قافیه نه دي. په دویمه مسره کې د «سړی» پر ځای «بابا» که راشي نو قافیه به برابره او طنز به غښتلی شي.
البته یادې وړې نیمګړتیاوې به د نوراجان بهیر د نظم خوند او اهمیت کم نه کړي خو که پام ورته وشي، نور علی نور به شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ